بُست پوهنتون

اقتصاد پوهنځی ریاست

مالی او بانکی څانګه

# د ۱۴۰۲ کال لپاره د مالي او بانکي څانګي د تطبيقي پلان د څارني کلنی راپور

نیټه: میزان - ۱۴۰۲ ل.ل.

## د مطالبو لړلیک

موضوع ........ پاڼه


**1.د پیل خبري** ........ 1

**2.د راپور غورچاڼ** ........ 1

**3.جزیاتي راپور** ........ 2

**4.نیمګړتیاوي، لاسته راوړني او وړاندیزونه** ........ 7

## 1. د پیل خبري

مالی او بانکي ځانګي په ۱۴۰۱.ل. کال کي خپل لومړی ستراتیژیک پلان چمتو کړ چي په کښې د لوړو زده کړو وزرات او بُست پوهنتون اکاډمیکو ارزښتونو او موخو ته په کته د زیربنا، علمي څیړنو، ښه حکومتولی، تولني سره مرستي او تکنالوژیکي پرمختګ مقاصدو ته په کتو سره ۲۱ بیلابیل پروګرامونه د پنځو کلونو لپاره پلان سوي دي. نوموړی پلان د ستراتیژیک پلان د معیارونو مطابق د رښتیني مالوماتو او پلټونو پر بنسټ چمتو سوی چي د ۱۴۰۱ل.ل. څخه تر ۱۴۰۵ل.ل. پوري به یې اهداف تحقق پیدا کړي.

دا دی د ۱۴۰۲ل.ل. کال له پیل سره د مالی او بانکي ځانګي له خوا درې تنه هیئتانو ته د نوموړي ستراتیژیک پلان پر بنسټ د ۱۴۰۲ل.ل. کال تطبیقي پلان د تطبیق څخه د څار دنده ورکړل سوه چي نوموړي هئیت خپله دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او راپور یې د اقتصاد پوهنځی محترم ریاست ته وړاندي کیږي.

## 2. د راپورغورچاڼ

A. **په دې راپورکي تر لاسه سوي مالومات د تائید سویو فورمو پر بنسټ راټول سوي او د ځانګړي تحلیل پر بنسټ ارزول سوي دي.**

B. **د ۱۴۰۲ کال په تطبیقي پلان کي ټولټال لس پروګرامونه پلان سوي چي له هغې جملي څخه یې اته پروګرامونه پیل سوي او څه نا څه عملي سوي دي.**

C. **له اته پروګرامونو څخه یو یې تر ۵۶,۶ سلنه او د نور سلني یې په ترتیب سره په لاندي جدول کي شتون لري.**

D. **ځانګي څه ناڅه خپل اهداف لاسته راوړي دي.**

E. **د دوه پروګرامونو د نه پیلیدلو لاملونه د شرایطو نه مساعداوالی او د ځنیو امکاناتو نه شتون په ډاګه سوی.**

F. **دا چي د ځانګي بودیجه د پوهنتون د مرکزي بودیجې یوه برخه ده او ځانګړې بودیجه نه لري، د پروګرامونو مصارف د پوهنتون له خوا د نورو برخو سره په مجموعي ډول تادیه سوي او ځکه نو د هر پروګرام د بودیجې د مصرف دقیقه سلنه په لاسه راوړل ګران وه.**

## 3. جزياتي راپور

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ ل.ل. کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه | د درېیمې ربعې د پرمختګ کچه | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه | د تطبیق عمومي سلنه | د بوديجې وضعيت | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | په سلنه ٪ | | مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري | | | | |
| 1 | د مالي او بانکي څانګي اعتبار اخیستنه او اعتبار دهی دریم پړا بریالی کیدل | د حمل څخه د قوس میاشتې تر پایه | هو | %40 | 50% | 80% | په دې ربعه کې نه دی پلان سوی | 56.6% | اضافه سوې | | د پولسګونو معیارونو مطابق د څانګي اسناد چمتو او راپور پې جوړ او د پوهنځي په مرسته د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمېټې ته لېږل سوي، د اړوند اسنادو د اپډېټ په برخه کې لازمي کړنې ترسره سوي | د بشري سرچینو کمښت، د فزیکي سرچینو لکه: پرینټر، فایلون، کتابچه بابو کمښت | د بشري او فزیکي سرچینو برابرول |
| 2 | د علمي څېړنو زیاتوالی | د قوس څخه تر حوت میاشتې تر پایه | هو | په دې ربعه کې نه دی پلان سوی | په دې ربعه کې نه دی پلان سوی | په دې ربعه کې نه دی پلان سوی | 30% | 30% | اضافه سوې | | د ۱۴۰۲ کال په بهیر کې دمالي او بانکي څانګي استادانو ته اړین موضوعات ورکړل سوي د څانګي مسؤل او استادان ځیني څېړني په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې خپرې سوي | د دائمي سټاف نشتون او د کار لوړ چې عمده علت يې د بشري قوې کمښت دی. | د کادري او دائمي استادانو زیاتول او څېړني په برخه کې د ظرفیتونو لوړونه |

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ ل.ل. کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمخګک کچه<br>په سلنه ٪ | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د درېیمې ربعې د پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت<br>مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | د استادانو لنډ مهاله ظرفیت لوړونه | دوامداره | هو | %10 | 30% | 20% | 20% | 20% | اضافه سوې | | - د تدریس میتودونه، علمي څېړني په برخه کي ورکشاپ د ۱۱ګونو معیارونو، APM او PPR<br>-په اړه سمینار استادانو ته ځیني<br>-پروګامونه لکه SPSS او د څېړني اړوند پلان سوي خو د کاري بوختیاو له امله لا نه دي بشپړ سوي او تر کار لاندي دي | د ټرینرانو کمښت | د ټرینرانو چمتو کول او د هغوي لپاره لازم تدابیر او مکافات په پام کي نیول |
| 4 | د عوایدو موندونکو پروګرامونو پراختیا | د جدي میاشتې څخه تر حوت | نه | په دي ربعه کې نه دی پلان سوی | په دي ربعه کې نه دی پلان سوی | په دي ربعه کې نه دی پلان سوی | 0% | 0% | اضافه سوې | — | — | نه مساعد شرایط او د امکاناتو نشتون | اړوند پروګرامونو ته شرایط مساعدول او لازم تدابیر |
| 5 | د د تشکلاتو پراختیا | دوامداره | هو | 20% | 0% | 0% | 0% | 5% | اضافه سوې | — | د دائمي ستاف د کمښت له کبله د حق الزمه او قرادادي استادانوګمارنه | د جذب د کمښت له کبله د نوی تشکیلاتو پراختیا ته لومړیتوب نه دی ورکول سوی. | د تشکیلاتو د کمښت دقیق تشخیص او اړین تدابیر ورته په پام کي نیول |

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ ل.ل. کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د دوهمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د دریمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د څلورمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6 | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی | سرطان، عقرب او حوت میاشتې | هو | په دې ربعه کې نه دی پلان سوی | 0% | 70% | 20% | 30% | اضافه سوې | | دخېړني میتودولوژي، د تدریس میتود ورکشاپونه، د ۱۱ګونو معیارونو، APM او PPR په برخه کې سمینارونه د اداري کارمندانو لپاره د SPSS او څېړني په برخه کې پرګرامونه تر کار لاندې دي | د ترېنرانو کمښت | د کافي ترېنرانو تائمینول |
| 7 | د محصلانو د جذب کمیت لوړوالی | دوامداره | هو | %25 | 0% | 0% | 0% | 6.25% | اضافه سوې | | — | د څانګې د فعالیت د جواز په برخه کې د ستونزو له مخې د نوي زده کړیالانو د جذب پروسه د پوهنتون د ۳ پړاو تر پاسېدو پوري په ځنډ کې اچول سوې | د اړوند ستونزو د حل لپاره لازم تدابیر او د نوی زده کړیالانو د جذب لپاره موثر پروګرامونه طرح سي. |

| شمېره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ ل.ل. کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړي ربعې پرمخګ کچه (په سلنه ٪) | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د درېیمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | د محصلینو او فارغانو د ظرفیت لووړوالی | د میزان میاشتې تریایه پورې | هو | 30% | 0% | 30% | په دې ربعه کې نه دی پلان سوی | 20% | اضافه سوې | | د دې کال په بهیر کي علمي سیرونه، د ۱۱ګونو معیارونو، APM او PPR په اړه د پوهاوي سمینار، د عملي زده کړو په موخه د زده کړیالانو لیدني له ځیني ادارو څخه، بېلابیلو بانکونو ته د عملي زده کړو په موخه د زده کړیالانو ورپېژندل سوه | د ترېنرانو کمښت او فزیکي اسنتیاو نشت | د یو شمېر علمي برنامو او کورسونو لپاره ترېنران او د هغوي مکافات تنظیم سئ. |
| 9 | په سیمه ایز اقتصاد کي د رول زیاتوالی | دوامداره | نه | 0% | 0% | 0% | 0% | 0% | اضافه سوې | — | — | په سیمه ایز اقتصاد کي د رول زیاتوالي پروګرامونه د امکاناتو د نشت او نامساعدو شرایطو له کبله ندی دایر سوي، | په ۱۴۰۲ کال تطبیقي پلان کي به دا ډول پروګرامونو په برخه کي شته ستونزي لري او لازم تدابیر ورته په پام کي ونیول سئ. |

| ګڼه | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۲ ل.ل. کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د دوهمې ربعې پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د دریمې ربعې پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | د محصلینو د تشویق/سکالرشیپونو پروسه | د ۱۴۰۲ د دلوې میاشتې تر پایه | هو | 15% | 0% | 0% | 0% | 3.75% | اضافه سوې | — | — | د نوي زده کړیالانو د جذب نشتون | دا چې د مالي او بانکي څانګې د نوي زده کړیالانو جذب شتون نه لري هیله لرو د جذب په برخه کې د شته ستونزو د لېرې کولو سره سم د تخفیف او سکالرشیپ برنامې لپاره اړین تدابیر وینول سئ. |
| | **مجموعي نتیجه** | د کال په ټوله جریان کې | له 10 څخه 8 پروګرامونه پیل سوي | په دې ربع کې په اوسط ډول (20) سلنه فعالیت ترسره سوی | په دې ربع کې په اوسط ډول (10) سلنه فعالیت ترسره سوی | په دې ربع کې په اوسط ډول (25) سلنه فعالیت ترسره سوی | په دې ربع کې په اوسط ډول (8.75) سلنه فعالیت ترسره سوی | اوسط (23.43) سلنه فعالیت ترسره سوی دی | اضافه سوې | — | ترسره سویو پروګرامونو ښه موثریت درلود او د هدف په لاسته راوړلو کې د کارنده رول لوبولی دی | د فزیکي منابعو، بودیجې کمښت او د ستاپ کمښت، د دایمي استادانو نشتون، کاري لوډ او د ټولني غیر مساعد شرایط اصلي خنډونه وه | کوښښ کیږي چې د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کې موثرو پروګرامونو ته ادامه ورکړل سي او د امکان په صورت کې د ۱۴۰۲ کال پاته پروګرامونه هم تطبیق سي. |

## 4. نيمګړتياوي، لاسته راوړني او وړانديزونه

**الف؛ نيمګړتياوي**

I. د فزيکي سرچينو لکه ځانګړي اداري شعبې، معياري ميز، څوکۍ، الماری او تختې نشتون.

II. د پرينټر، کاپير، قلم او کتابچه بابو نشتون او کمښت.

III. د مالي او بانکي څانګي د ستراتيژيک پلان لپاره ځانګړې او مخصوصه نه وه ورکول سوې؛

IV. د مالي او بانکي څانګي د بشري سرچينو تعداد کم او د ځينو پروګرامونو د پيلولو لپاره کافي امکانات او د ټرينرانو لپاره د مکافاتو نه تخصيص.

V. د دايمي استادانو کمبود او د کادري سيستم نه موجوديت د دې لامل سوی تر څو د علمي پراختيا پروګرام په مکمل ډول تطبيق نه سي.

VI. د مالي او بانکي څانګي د جواز په برخه کي ستونزي چي له کبله په نوموړې څانګه کي د نوي جذب پروسه په ټپه ولاړه ده.

VII. د پوهنتون او پوهنځی د رهبری له خوا د مالی او بانکی څانګي دستراتيژيک پلان د تطبيق په برخه کي کمه حمايه د ځينو پروګرامونو د ځنډ او خنډ لامل سوې ده

**ب: لاسته راوړني:**

I. د مالي او بانکي څانګي د دريم پړاو د اعتبار اخيستني چاري د پلان سره سم مخ ته يوړل سوې او په دې هغه اسناد چي په دوامدره ډول بايد اپډيټ يا نوي سي نوي کړل سوه.

II. د استادانو د ظرفيت لوړاوي پروګرامونه په بريالیتوب سره دائير سوي دي.

III. د زده کړيالانو، فارغينو او اداري کارمندانو لپاره اړين د ظرفيت لوړوني پروګرامونه دائير سوي.

IV. که څه هم فعاليتونه په مکمل ډول نه دي تر سره سوي ولي تر سره سوي برخي يې د پلان سره سم مختته وړل سوي وې.

V. امکاناتو او منابعو ته په کتو سره مالي او بانکي څانګه توانيدلي چي په دې کال کي نږدې 23.43 سلنه اهداف لاسته راوړي.

VI. د مالي او بانکي څانګه رهبري او پرسونل د ستراتيژيکو اهدافو لاسته راوړلو ته متعهد دي.

**ج: وړانديزونه**

**I. د مالي او بانکي څانګي اداري او کادري پرسونل زيات کړل سي او ظرفيتونه يې لوړ سئ.**

**II. د پوهنتون د رهبری له خوا مالی او بانکي څانګي ته اړين فزيکي: لکه معياري مېز، څوکۍ، الماری په اختيار کي ورکړل سئ.**

## III. د مالي او بانکي څانګي لپاره ځانګړې شعبه ورکړل سئ.

### په درنښت

**د تطبیقي پلان څخه د څارني هئیت د غړو لاسلیک:**

د هئیت مشر نوم او لاسلیک : **ارسلان وطندار** د هئیت غړي نوم او لاسلیک: **امان الله نیازی** د هئیت غړي نوم او لاسلیک: **صفت الله اشنا**

1. پورته د ۱۴۰۲-ل.ل. کال د تطبیقي پلان کلنی د څارني راپور د مالي او بانکي څانګي په (۱) نمبر غونډه کي په (۱۴۰۳/۰۱/۰۶) نیټه تائید سو.

د مالي او بانکي د مسؤل نوم؛ **امان الله نیازی** د مالي او بانکي څانګي د مسؤل لاسلیک؛ نیټه؛

2. پورته د ۱۴۰۲ ل.ل. - کال د تطبیقي پلان کلنی د څارني راپور د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې په ( ) نمبر جلسه کي په ( / /۱۴۰۳) نیټه تائید سو.

د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې د مسؤل نوم؛ **ارسلان وطندار** د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې د مسؤل لاسلیک؛ نیټه؛

3. پورته د ۱۴۰۲ کال د تطبیقي پلان کلنی د څارني راپور د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا په ( ) نمبر جلسه کي په ( / /۱۴۰۳) نیټه تصویب سو.

د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د مسؤل نوم ؛ **ارسلان وطندار** د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د مسؤل لاسلیک نیټه:

د اقتصاد پوهنځی مُهر؛